مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۲۵٦ (از ۲٦ جوزا الی ۲ سرطان ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

افغان - پاک اړیکې؛ د باور جوړونې نوې هڅې

افغان-پاک اړیکې ........ ۴

د بې‌باورۍ په فضا کې د باور جوړونې هڅې ........ ۵

د سولې بهیر؛ نوې ننګونې او نوې فرصتونه ........ ۷

نگاهی به آتش‌بس موقت و تاثیرش بر پروسهٔ صلح

آتش‌بس متفاوت ........ ۹

تاثیرات و پیامدهای آتش‌بس دوجانبه ........ ۱۰

آتش‌بس و مذاکرات صلح ........ ۱۱

## مقدمه

د کابل او اسلام‌آباد اړيکې په تېره څه باندې يوه‌نيمه لسيزه کې تر ډېره بې‌ثباته او له بې‌باوريو ډکې وې؛ خو د ملي يووالي حکومت له جوړېدو راوروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ بې‌باورۍ خپل اوج ته ورسېدې. له اسلام‌اباد سره د ملي يووالي حکومت د اړيکو ترينګلتيا په هغو ژمنو کې د پاکستان د پاتې راتګ له کبله وه، چې په پرله‌پسې ډول يې افغان لوري ته ورکړې وې.

د دواړو هېوادونو ترمنځ د بې‌باوريو په اوج کې له تېرو څو مياشتو راهيسې د باور جوړونې هڅې پيل شوې دي او په دې تړاو د افغانستان او پاکستان د سولې د عمل پر پلان څو پړاوه خبرې او هوکړه د دې لامل شوې، چې دا اړيکې يو ځل بيا د ښه کېدو په لور ولاړې شي. له همدې کبله په تېرو دريو مياشتو کې د افغان او پاکستاني چارواکو تګ-راتګ زيات شوی دی. دا چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اړيکې په څه وضعيت کې دي او د اړيکو رغولو وروستۍ هڅې به څومره اغېزناکې ثابتې شي، هغه پوښتنې دي، چې د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل په لومړۍ برخه کې يې په اړه شننه لولئ.

د تحليل په دويمه برخه کې بيا د افغان حکومت او طالبانو وروستي لنډمهالي اوربند په اړه لولئ. د روژې مياشتې په وروستۍ اوونۍ کې لومړی افغان ولسمشر له طالبانو سره يو اته ورځنۍ اوربند اعلان کړ او بيا وروسته طالبانو هم د کوچني اختر د نمانځنې په پار، د دريو ورځو لپاره له حکومتي ځواکونو سره اوربند اعلان کړ. دا د افغان حکومت او بهرنيو ځواکونو پرضد د طالبانو د جګړې له پيل راهيسې لومړنی ځل و، چې دوه‌اړخيز اوربند اعلان او عملي شو. دا چې د دغه اوربند پايلې د دواړو لورو لپاره څه وې او پر سوله به يې اغېزې څه وي، هغه پوښتنې دي، چې د تحليل په دويمه برخه کې يې د ځوابولو هڅه شوې ده.

# افغان – پاک اړيکې؛ د باور جوړونې نوې هڅې



د افغانستان او پاکستان اړيکې د ملي يووالي حکومت په دوره کې له بې‌باوريو او لوړو-ژورو وروسته، اوس يو ځل بيا د باور جوړونې او ښه کېدو په درشل کې دي.

په وروستيو مياشتو کې د دواړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزارتونو «د سولې او پيوستون لپاره د افغانستان-پاکستان د عمل پلان» تر عنوان لاندې يو پروګرام پيل کړ، چې تر دې دمه يې د دواړو هېوادونو د حکومتي چارواکو لپاره د ځينو سياسي مشورتي ناستو او د يو بل هېواد ته د تګ راتګ زمينه برابره کړې ده.

د دغه تګ راتګ په لړ کې تېره اوونۍ هم (۱۳۹۷هـ ش د جوزا ۲۹مه) يو جګ‌پوړی افغان پلاوی اسلام‌آباد ته ولاړ او د افغان چارواکو په وينا، پاکستان ته د تللي دغه افغان پلاوي د سفر اجنډا، د سولې او له وسله‌والو طالبانو سره د اوربند په مسئلو له پاکستاني چارواکو سره خبرې اترې دي.

د ملي یووالي حکومت پر مهال د افغان – پاک اړیکو ځرنګوالی، د بې‌باورۍ په فضا کې د د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور جوړونې نوې هڅې او په اوس‌مهال کې د سولې پروسې پر وړاندې نوې ننګونې او شته فرصتونه هغه موضوعات دي، چې دلته مو پرې بحث کړی.

## افغان-پاک اړیکې

د کابل ـ اسلام‌آباد اړیکې تل د بې‌باوریو ښکار دي. دواړه لوري تل د یو بل پر دریځونو شکونه کوي؛ خو د لېوالتیا ځای بیا دا دی، چې له دغو بې‌باوریو او شکونو سره سره کابل هڅه کوي، چې لومړی له پاکستان سره خپلې اړیکې ورغوي او بیا د دغو اړیکو پر مټ، افغانستان د سولې او ثبات په لور بوځي. دغه دریځ یوازې دومره ګټه کړې، چې په لنډمهال کې یې افغان-پاک اړیکې رغولې دي؛ خو په اوږده مهال کې دغه سیاست تر اوسه هېڅ پایله نه ده لرلې.

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو سره سم، افغان ولسمشر محمد اشرف غني د کابل د تېر بهرني سیاست په پرتله اسلام‌آباد ته ډېر نږدې شو او اسلام‌آباد ته یې په بې‌ساري ډول امتیازات ورکړل. په بل اړخ کې هغه مهال کابل ته د پاکستان د سیاسي او نظامي لوړ پوړو چارواکو سفرونه هم د تېر په پرتله زیات شول او کابل ته به د هر پاکستاني لوړپوړي چارواکي له سفر سره، له افغان حکومت سره د سولې اړوند تازه ژمنې کېدې؛ خو پاکستان تل په خپلو دغو ژمنو کې پاتې راغلی دی.

د پاکستان په تړاو د ولسمشر غني تګلاره او پاکستان ته امتیازات ورکول، په کابل کې د خونړیو چاودنو له زیاتېدو سره د رسنیو، د ملي شورا ځینو غړو او پخوانیو حکومتي چارواکو له سختو نیوکو سره مخ شوه. په دې توګه، په ژمنو کې د پاکستاني لوري پاتې راتګ او په افغانستان کې ورځ تر بلې د امنیت خرابوالی هغه لامل شو، چې د ملي یووالي حکومت پر مهال یې افغان – پاک اړیکې دومره ترینګلې کړې چې افغان ولسمشر په نړیوالو کنفرانسو کې د پاکستان مرستې رد کړې او په نړیواله کچه یې د پاکستان د منزوي کولو جدي هڅې پیل کړې.

له دغو لوړو-ژورو او بیا د افغانستان او سوېلي اسیا لپاره د امریکا په نوې تګلاره کې پر پاکستان له فشارونو وروسته، له تېرو څو میاشتو راهیسې یو ځل بیا د کابل – اسلام‌آباد ترمنځ د اړیکو ښه کېدو هڅې کېږي؛ د دواړو

لورو لوړپوړي چارواکي د يو بل هېواد ته سفرونه کوي؛ د پاکستان په تړاو د افغان حکومت په تګلاره کې هم نرمښت راغلی او ظاهرا پاکستان هم غواړي چې له افغان حکومت سره يې اړيکې ښې شي.

دا چې افغان حکومت ولې بيا هم هر ځل د سولې او ثبات لپاره د پاکستان په لور مخه کوي، عمده لامل يې له افغان حکومت سره د وسلهوالو مخالفينو هېڅ ډول خبرې نه کول دي، دا چاره د دې لامل شوې چې د سولې په تړاو د افغان حکومت انتخابونه محدود شي او افغان چارواکي بيا هم پاکستان ته په دې هيله مخ واړوي، چې ښايي دا ځل به په صادقانه توګه د افغان سولې بهير او له طالبانو سره د افغان حکومت د مخامخ خبرو اترو په پيل کې مرسته وکړي.

## د بې‌باورۍ په فضا کې د باور جوړونې هڅې

افغانستان او پاکستان ترمنځ د بې‌باوريو په اوج کې د دواړو هېوادونو له لوري د دوه‌اړخيزو سياسي مشورتي ناستو پيل د ۱۳۹۶هـ ش کال په اسد مياشت کې کابل ته د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت د مرستيالې "تهمينه جنجوعه" په مشرۍ د پاکستاني پلاوي په راتګ سره وشو.

پاکستاني پلاوي د افغان حکومت د بهرنيو چارو وزارت د سياسي مرستيال حکمت خليل کرزي په مشرۍ له افغان پلاوي سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور جوړونې، سياسي، تجارتي او ترانزيتي اړيکو پياوړتيا، د ډيورند کرښې په اوږدو کې د امنيت ټينګښت او د افغان سولې په اړه خبرې اترې وکړې. دغه راز دواړو لورو هوکړه وکړه، چې د بېلابېلو ميکانيزمونو په پام کې نيولو سره به د دواړو لورو ترمنځ د متقابل باور رامنځته کولو په موخه هڅې کوي.

دغه سياسي مشورتي ناستې څو ځله په کابل او اسلام‌آباد کې د دواړو هېوادونو له لوري د ټاکل شوو پلاوو ترمنځ وشوې او بلآخره د ۱۳۹۷هـ ش کال د حمل په ۱۷مه کابل ته د پاکستان د مخکېني لومړي وزير شاهد خاقان عباسي په راتګ سره، نوموړي له افغان ولسمشر محمد اشرف غني‌سره د دواړو هېوادونو ترمنځ د سولې او پيوستون لپاره د عمل پلان (APAPPS) د تطبيق په موخه پر ځينو اصولو هوکړه وکړه:

- پاکستان د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالکيت د سولې او پخلاينې د بهير ملاتړ کوي؛
- دواړه لوري د هغو ډلو پرضد اغېزناک ګامونه پورته کوي، چې سولې ته نه حاضرېږي او د دواړو هېوادونو امنيت ته ګواښ پېښوي؛

- دواړه لوري ژمن دي چې خپله خاوره به يې د کوم بل هېواد، شبکې، ډلې يا فرد لهخوا د مقابل هېواد د حکومت ضد چارو لپاره نه کارېږي؛
- د هوکړې شويو اصولو د پلي کولو لپاره بايد د اړيکو د مديرانو له لارې د ارزونې، همغږۍ او تثبيت ګډ ميکانيزم جوړ شي؛
- دواړه هېوادونه د يو بل سيمه کې د ځمکنيو او هوايي تاوتريخواليو مخنيوي ته ژمن دي؛
- دواړه لوري به د عامه تورونو لوبې د مخنيوي او اندېښمنوونکو او جنجالي مسئلو ته د ځواب ويلو لپاره، د افغان-پاک د عمل پلان د همغږۍ ميکانيزم کاروي؛
- د «سولې او پيوستون لپاره د افغان-پاک عمل پلان» د پلي کولو او د پورتنيو اصولو د پلي کولو لپاره به کارډلې او د همغږۍ ميکانيزم جوړوي.

کابل ته د شاهد خاقان عباسي له سفر وروسته د کابل – اسلامآباد د اړيکو بيا رغېدو او د دواړو لورو ترمنځ د شويو هوکړو د تطبيق او عملي کولو په موخه دغه هڅې لا ګړندۍ شوې. د ۱۳۹۷هـ ش د جوزا په ۷مه د افغانستان د ملي امنيت شورا سلاکار محمد حنيف اتمر، د ملي امنيت عمومي رئيس معصوم ستانکزی او د کورنيو چارو وزير ويس احمد برمک پاکستان ته ولاړل او له پاکستاني چارواکو سره يې د سولې او پيوستون د عمل پر پلان خبرې وکړې.

دغه راز د همدې مياشتې په ۲۲مه کابل ته د پاکستان د پوځ لوی درستيز قمر جاوېد باجوه راغی او له افغان چارواکو سره يې خبرې وکړې. د همدې تګ راتګ په دوام د جوزا په ۲۹مه يو ځل بيا د افغانستان د ملي امنيت سلاکار محمد حنيف اتمر، د کورنيو چارو وزير ويس برمک او د ملي امنيت عمومي رئيس معصوم ستانکزی، د دويم ځل لپاره داسې مهال اسلامآباد ته ولاړل چې له يوې خوا طالبانو خپل درې ورځنی اوربند پای ته ورساوه او له بلې خوا په کنړ کې د پاکستاني طالبانو مشر ملا فضل الله د افغان او امريکايي ځواکونو په هوايي بريد کې ووژل شو.

## د سولې بهیر؛ نوې ننګونې او نوي فرصتونه

زموږ په سیمه او هېواد کې وروستیو تحولاتو د افغان سولې په تړاو نوې ننګونې او نوي فرصتونه زیږولي دي. د نویو ننګونو له جملې د روسیې او ایران زیاتېدونکی رول او له امریکا سره د دواړو هېوادونو خرابېدونکې اړیکې دي. څکه نو داسې انګېرل کېږي، چې له افغان طالبانو سره د دغو هېوادونو پراخېدونکو اړیکو، د افغان سولې لاره او شرایط هم پېچلي کړي دي.

په بل اړخ کې، د افغان حکومت او طالبانو لهخوا د اختر درې ورځنی اوربند، چې دواړو لوریو په بریالیتوب سره پلی کړ، د سولې په تړاو هیلې راژوندۍ کړې او دا یو فرصت وبلل شو. دغه راز په هېواد کې دننه د سولې په تړاو د ولسونو نوی راپورته کېدونکی موج او د افغان سولې پروسې په تړاو د امریکا په دریځ کې څه نا څه بدلون هم د سولې لپاره نوي فرصتونه بلل کېږي.

پورتني هغه ټکي دي، چې د سولې په تړاو د قضیې له دواړو اړخونو د چټکو او نویو ګامونو د پورته کولو تقاضا کوي. خو د افغان حکومت د سولې تګلاره لا هم د پاکستان پر صادقانه هڅو راڅرخي او له همدې کبله په وروستیو میاشتو کې د دواړو هېوادونو د اړیکو رغولو دوهاړخیزې هڅې روانې دي. په اوسنې وخت کې د افغان-پاک اړیکو نویو پرمختګونو ته څکه ډېره هیله نشته، چې د پاکستان وروستۍ هڅې د نړیوالو فشارونو زېږنده دي او داسې انګېرل کېږي، چې پاکستان دا هڅې یوازې د دغو فشارونو د کمولو لپاره کوي. پای

# نگاهی به آتش‌بس موقت و تاثیرش بر پروسهٔ صلح



گروه طالبان برای نخستین بار پس از سال ۲۰۰۱ و آغاز جنگ برضد حکومت افغانستان و نیروهای خارجی در کشور، یک آتش‌بس سه روزه را در برابر نیروهای حکومتی اعلام و رعایت کرد.

آتش‌بس سه روزهٔ طالبان در سه روز عید، پاسخی به آتش‌بس هشت روزهٔ حکومت افغانستان از ۲۷ ماه رمضان الی ۵ عید فطر بود، هرچند طالبان در اعلامیهٔ پایانی این آتش‌بس گفتند که این اقدام آن‌ها در مقابل اقدام حکومت برای آتش‌بس موقتی نبوده و آن‌ها در عید گذشته نیز آتش‌بس سه روزه را بدون اعلام قبلی، اجرا کرده بود.

آتش‌بس طالبان و حکومت افغانستان با استقبال گسترده در داخل و خارج از کشور روبه‌رو شد و به همین دلیل حکومت افغانستان آنرا برای ۱۰ روز دیگر نیز تمدید کرد، ولی طالبان پس از سه روز دوباره به حملات خود در برابر نیروهای حکومتی ادامه دادند.

در این تحلیل با نگاهی به آتش‌بس دوجانبهٔ حکومت و طالبان، تاثیرات و پیامدهای این آتش‌بس و تاثیرش بر پروسهٔ صلح، مورد بررسی قرار گرفته است.

## آتش‌بس متفاوت

آتش‌بس افغان‌ها در سه روز عید، متفاوت‌تر از آتش‌بس‌های معمول در سایر کشورها بود، چون از یک‌سو به شکل غیرمنتظره و بدون میانجیگری خارجی‌ها اعلام و به گونهٔ کامل در تمام مناطق کشور از سوی هر دو جانب رعایت گردید و از سوی دیگر افراد طالبان و نیروهای حکومت، مراسم و خوشی‌های عید را در اکثریت مناطق به گونهٔ گسترده با هم یکجا تجلیل کردند و حتی مقام‌های افغان با جنگجویان طالب دیدارهایی داشتند، عکس‌های یادگاری و سیلفی گرفتند و هم‌دیگر را به آغوش کشیدند.

چگونگی وضعیت در این سه روز نه تنها افغان‌ها بلکه جهانیان را حیران و غافل‌گیر کرد، چیزیکه در داخل و خارج از کشور باعث امیدواری تمدید آتش‌بس نیز گردید و کشورها و سازمان‌های مختلف به شمول امریکا و ناتو با حمایت از تمدید آن از سوی حکومت افغانستان، از طالبان نیز خواستند تا آتش‌بس سه روزه خویش را تمدید کنند.

در جریان سه روز عید صداهای گستردهٔ به حمایت و تمدید آتش‌بس و خواست‌های صلح در تمام مناطق کشور بلند شد، به همین دلیل حکومت افغانستان برای تشویق طالبان، آتش‌بس خویش را تمدید کرد و از طالبان نیز خواست تا آتش‌بس خویش را تمدید کنند. اما طالبان به دلیل وضعیتی که در این سه روز حاکم شد، آتش‌بس خویش را تمدید نکرد، چون در آنعده افراد طالبان که با نیروهای حکومتی دید و بازدید داشتند، روحیهٔ ضد جنگ به شدت قوت می‌گرفت.

## تاثیرات و پیامدهای آتش‌بس دوجانبه

آتش‌بس موقت میان حکومت افغانستان و طالبان، پیامدها و نتائجی برای هر دو جانب در پی داشت که در سطور زیر به برخی آن‌ها اشاره شده است:

- حکومت افغانستان با اعلام آتش‌بس و دریافت پاسخ مثبت از سوی طالبان حتی برای سه روز، ثابت ساخت که در سال‌های اخیر گام‌های موثر و عملی را برای صلح در کشور برداشته است.
- اعلام آتش‌بس و سپس تمدید آن از سوی حکومت اعتماد و حمایت افغان‌ها از تلاش‌های صلح رئیس جمهور غنی را بیشتر ساخت.
- اقدام حکومت برای آتش‌بس نشان داد که حکومت افغانستان می‌تواند با ابتکارهای چون اعلام آتش‌بس اخیر، گام‌های موثر را در راستای تامین صلح در کشور بردارد.
- آتش‌بس نشان داد که ادامۀ جنگ در کشور هنوز هم عوامل خارجی دارد و اگر مداخلات و حضور خارجی‌ها در کشور نباشد، افغان‌ها می‌توانند با هم مصالحه نمایند.
- آتش‌بس نشان داد که ادعای وجود بیست گروه مسلح در افغانستان با واقعیت‌های زمینی همخوانی ندارد و این آتش‌بس به جز دو انفجار در ننگرهار که مسؤولیت آنرا گروه داعش به عهده گرفت، در تمام مناطق کشور رعایت گردید. از سوی دیگر، تنها حادثۀ ننگرهار در این سه روز، ثابت ساخت که تمرکز فعالیت‌های گروه داعش نیز در مناطق شرقی به خصوص در ولایت ننگرهار است و در سایر مناطق کشور فعالیت آنچنانی ندارد.
- آتش‌بس نشان داد که برخی اختلافات داخلی گروه طالبان در سه سال اخیر روی صفوف جنگجویان این گروه تاثیری نداشته و این گروه هنوز هم از وحدت و قوت برخوردار است.
- آتش‌بس نشان داد که افغان‌ها در هر دو جانب جنگ، به شدت از جنگ جاری در کشور خسته شده‌اند و قناعت اکثریت مطلق افغان‌ها برای صلح آماده شده است.
- هرچند تمدید نشدن آتش‌بس از سوی طالبان باعث ناخوشنودی مردم گردید، ولی در کل این سه روز امیدواری به یک زنده‌گی صلح‌آمیز و بدون خشونت در کشور را در بین افغان‌ها ایجاد کرد و این سه روز همچنان ثابت ساخت که حمایت مردمی به خصوص تاثیر رسانه‌های اجتماعی در چنین پروسه‌ها و موفق شدن آن، مهم و حیاتی است.

## آتش‌بس و مذاکرات صلح

آتش‌بس ظاهرا بدون میانجیگری خارجی‌ها، امیدهای صلح و کنارهم آمدن افغان‌ها را بیش از پیش تقویت کرد و این امیدواری را بیشتر ساخت که افغان‌ها نسبت به هر وقت دیگر به تفاهم بین‌الافغانی نزدیک‌تر شده‌اند.

رعایت آتش‌بس دوجانبه و گشت و گذار افراد طالبان و نیروهای حکومتی در مناطق تحت کنترول یکدیگر در سه روز عید، تحول بزرگی در ایجاد فضای اعتماد میان دو جانب جنگ بود که در راستای آغاز تفاهم و مذاکرات بین‌الافغانی گام مهم و موثر پنداشته می‌شود. در حالیکه شورای عالی صلح نیز گفت که در این روزها تماس‌های با مقام‌های طالبان گرفته شده است.

با وجود حمایت گستردهٔ افغان‌ها از آتش‌بس موقت حکومت و طالبان، مخالفت‌هایی نیز در برابر این اقدام حکومت و طالبان بلند شد که نشانگر موانع داخلی در برابر صلح در کشور است. بنابراین، مبارزه با این موانع نیز یکی از گام‌های مهم در راستای تامین صلح در کشور پنداشته می‌شود.

در جانب دیگر، هرچند از گفتگوهای مخفی با طالبان سخن گفته می‌شود، ولی ظاهرا طالبان اراده‌ای برای گفتگو با حکومت افغانستان ندارد و این گروه روی گفتگوهای صلح با امریکا تاکید دارد. به همین دلیل در اعلامیهٔ پایانی آتش‌بس، هرگونه گفتگوهای آشکار و مخفی با حکومت افغانستان را رد کرد.

پیشرفتی مهمی که به دلیل رعایت آتش‌بس سه روزه در این مورد دیده شد، از یک‌سو رئیس جمهور افغانستان برای نخستین بار از گفتگو در مورد حضور و نقش نیروهای خارجی در افغانستان سخن زد و از سوی دیگر، وزارت خارجهٔ امریکا نیز از اشتراک در گفتگوهای صلح با طالبان خبر داد. جیمز کننگهم سفیر پیشین امریکا در افغانستان نیز در مصاحبه‌ای گفت که امریکا نقش واضحی در افغانستان ایفا می‌کند و به همین دلیل امریکا باید با طالبان گفتگو کند.

گرچند جهت‌های درگیر جنگ افغانستان به شمول طالبان به این نتیجه رسیده‌اند که پافشاری بر راه‌کارهای نظامی هیچ یک از جهت‌ها را پیروز نخواهد کرد و به همین دلیل طالبان نیز در اعلامیه‌های اخیر خود به گونهٔ مسلسل از امریکا می‌خواهد تا به گفتگوهای صلح با این گروه حاضر شود، ولی عملا باوجود اینکه در حال حاضر تلفات نیروهای خارجی در جنگ افغانستان به پایین‌ترین حد آن رسیده و جنگ جاری همه‌روزه در هر دو

طرف از افغان‌ها قربانی می‌گیرد، طالبان با ادامهٔ جنگ جاری در برابر حکومت افغانستان، در پی حاضر شدن امریکا به گفتگوهای صلح با این گروه است و برای تفاهم بین‌الافغانی برنامه‌ی را روی دست ندارد.

بنابراین، هرچند پیشرفت‌هایی برای موفق شدن پروسهٔ صلح افغانستان به دلیل آتش‌بس اخیر دیده شد، ولی تا زمانیکه برخورد واقعبینانه از سوی تمام جهت‌های درگیر با پروسهٔ صلح صورت نگیرد این پروسه همچنان توفیقی نخواهد داشت.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق ارشد:** حکمت الله ځلاند (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com